جمهوری اسلامی افغــانستان
کمیسیون مستقل انتخــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د تــــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د تولټاکنود پایلو د تصدیق کړنلاره

دغه کړنلاره د افغانستان د ټاکنو د قانون د ۵۶ مادې پر بنسټ د ورکړل شويو واکونو له په پام کې نیولو سره د ټاکنو د پایلو په تصدیق پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا تصویب شوې ده.

## اصطلاحګاني

لومړی ماده :

دغه اصطلاحګاني په دې کړنلاره کې لاندې مفاهیم افاده کوی.

1. کمیسیون : د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پر بنسټ جوړشوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون : د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون چې د ټاکنو د قانون د ۵۲ مادې پربنسټ جوړ شوی دی .
3. . سیاسي ګوند : د عدلیی په وزارت کې راجستر شوی سیاسي ګوند.
٤. . کاندید : خپلواک کاندیدان یا په سیاسي ګوند پورې اړوند.
٥. . څارونکی : هغه حقیقي شخص دی چې د سیاسي ګوند یا کاندید په استازیتوب په ټاکنو کې د څارونکي په توګه برخه اخلي او د کمیسیون له خوا پیژند لیک ترلاسه کوي .
٦. کتوونکی : هغه حقیقي شخص دی د ملي یا نړیوالو ټاکنو باندې د کتوونکو بنسټونو له لورې د ټاکنو په بهیر باندې د کتنې په موخه ورپیژندل کیږي او د کمیسیون له خوا پیژند لیک ترلاسه کوي.
٧. د رسنیو استازې : هغه حقیقي شخص دی چې د اعتبارلرونکو ملي او نړیوالو دله ییزو رسنیو له خوا د ټاکنو له بهیر څخه دریوټ برابرولو په مقصد معرفي کیږي او د کمیسیون له لوري پیژند لیک ترلاسه کوي.
٨. د رایو شمیرل : د رایو شمیرنو په سیمو کې د رایو ورکوونکو د رایو شمیرل.
٩. د رایو شمیرلو سیمه : د رایو ورکولو هغه سیمه چې د رایو ورکولو د بهیر له پاې ته رسیدو ور سته پکې رایې شمیرل کیږي
١٠. د پایلو د راټولو مرکز: په کابل کې د ټاکنود خپلواک کمیسیون له خوا هغه ټاکل شوی مرکز دی چې په کی د د رایو شمیرلو د اړوندو سیمو پایلې پکې جمع بندی کیږي.
١١. بشپړې پایلې : هغه پایلې دي چې د پایلو د راټولو په مرکزونو کې د ټاکنو په پایلو پورې د اړوندو ټولو شکایتونو او اعتراضونو له څیړنې ورسته ، د تولټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا تصدیق او خپریږي.

## د تطبیق ساحه

دویمه ماده:

د غه کړنلار ه په لاندینیو ټاکنو کې د رایو په اعلان اوتصدیق پورې اړوندې چارې تنظیموي :

١. د جمهوري ریاست تولټاکنې .
٢. د ولسي جرګې ټاکنې
٣. د ولایتي شور اګانو ټاکنې
٤. د و لسوالیو دشوراګانو ټاکنې.

## د رایو شمیرلو پایلې

دریمه ماده:

1. درایو د شمیرنو پایلي دشمیرنی دمحلونوځخه دټاکنو دخپلواک کمیسیون ولایتی دفترونوته او بیا له هغه خایه دپایلو راټولولو مرکز ته چه په کابل کي واقع دی، درایو شمیرنی دکړنلاري په مطابق لیږل کیږی.
2. د هري سیمي د شمیرني پایلي داړوند ولایت د پایلو د راټولو په مرکز کي د اعلان په وخت کي په موضوع پوري د اړوندو شکایتونو او اعتراضونو له رپوټ سره یو ځاي د کمیسیون مرکزیي دفتر ته لیږدول کیږي .
3. (د جمهوري ریاست له ټاکنوپرته) د ټولټاکنو پایلي د ټولو شکایتونو او اعتراضونو له څیړني وروسته او اویا د هغه شکایت او اعتراض د نشتوالي په اړه چي وکړاي شي د ټاکنو په پایلو اغیزه وکړي د کمیسیون له تصویب وروسته د اړوند ولایت په کچه او په کابل کي د کمیسیون د مرکزي دفتر له خوا اعلانیږي .
4. د جمهوري ریاست بشپړي پایلي ددې مادې په دریمه فقره کي د اټکل شویو شرایطو له تطبیق وروسته په رسمي ډول اعلانیږي .

## د کمیسیون له خوا د پایلو تصدیق

څلورمه ماده:

1. د کمیسیون دارالانشا د رایو د شمیرني پایلي او په هغه پوري د اړوندو اعتراضونو او شکایتونو په باب له مفصل رپوټ سره یو ځاي هره ورځ کمیسینون ته وړاندي کوي.
2. وړاندي شوي پایلي او رپوټونه د دارالانشا له خوا کمیسیون ته وړاندی کیږي .
3. د ټاکنو د پایلو په تصدیق باندي د کمیسیون په غونډو کي خبري کیږي ، د پایلو په تصدیق کي کمیسیون په پایلو پو ري اړوندو شکایتونو او اعتراضونو باندي کتنه کوي .

## د پایلو اعلام

پنځمه ماده:

د جمهوري ریاست د ټاکنو پایلي یوازي په کابل کي د کمیسیون د مرکزي دفتر له خوا خپریږي ، په دي کړنلار ه کي د نورو اټکل شویو ټاکنو پایلي د اړوند ولایت په کچه او په کابل کي د کمیسیون د مرکزي د فتر له تصویب وروسته خپریږي.

## د لومړنیوپایلو په اړه اعتراضونه او شکایتونه

شپږمه ماده:

1. د رایو ورکولو په شرایطو ټول برابر اتباع ، د سیاسي ګوندونواو کاندیدانو استازي کولاي شي دمقدماتی پایلو په اړه خپل شکایتونه له دټاکنو دقانون اویا دهغو اسنادو دنقض په صورت کي چي دکمیسیون لخوا تصویب شوي دي ، دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون سره ثبت کړي.
۲. د مقدماتی پایلو په اړه ټول شکایتونه باید د پایلو د اعلان څخه وروسته ،په ۷۲ساعتونو کي دننه دټا کنیزو شکایتونو دکمیسیون سره ثبت کړی شي او نوموړي شکایتونه دټا کنیزو شکایتونو دکمیسیون لخوا ددوی دداخلي کړنلارو سره سم دغور لاندی نیول کیږي.

## منتخبو کاندیدانو ته د تصدیق لیکونو اطلاع او صادریدل

اوومه ماده:

د ټولټاکنو د بشپړو پایلو له اعلام وروسته کمیسیون د ټاکنو د پایلو تصدیق لیکونه کاندیدانو ته برابر او د هغوي په واک کي يې ورکوي. د تصدیق لیک کاپي د ټاکنو دپایلو په اړوند له رسمي مکتوب سره یو ځاي اړوندو ارګانونوته لیږدول کیږي.

## انفاذ ( نافذیدل)

اتمه ماده:

دغه کړنلاره دتصو یب له نیټي وروسته نافذه او خپریږ ي.